### د کتاب معرفي

# آموزش صلح (ترویج صلح از طریق معارف)




«آموزش صلح (ترویج صلح از طریق معارف)» کتاب یو ځېړنیز کتاب دی چې د 1399 کال په وري میاشت کې د سولې په چارو کې د دولت وزارت د پالیسیو او پروګرامونو عمومي ریاست تدوین کړی. دغه کتاب په 57 (A5) پاڼو کې دی او عموماً په رسمي، نیمه رسمي او نارسمي ډول د معارف له لارې د سولې د زده‌کړې مفاهیم، عناصر، چوکاټ، ننګونې او نوښتونه پکې څېړل شوي چې تفصیل یې په لاندې ډول دی: د سولې مفهوم او زده‌کړه، د سولې د زده‌کړې اساسي عناصر، د سولې د زده‌کړې نصاب، په رسمي ښوونیز نصاب کې د سولې د زده‌کړې مفاهیم درج کول، په نیمه رسمي ښوونیز نصاب کې د سولې د زده‌کړې مفاهیم درج کول، د سولې پر زده‌کړه د ولاړ ښوونیز نصاب په وړاندې کولو کې د ښوونکي رول، د سولې د زده‌کړې مفهومي چوکاټ، د سولې له زده‌کړې څخه ګډ درک رامنځته کول، ننګونې، سوله په عمل کې.

**په نړۍ‌واله کچه د سولې د زده‌کړې د نوښتونو موردي مطالعه**

**په پاکستان کې د سولې د زده‌کړې نوښتونه؛** رسمي زده‌کړو کې د سولې زده‌کړه، په نیمه رسمي زده‌کړو کې د سولې زده‌کړه، په نارسمي زده‌کړو (مدرسو) کې د سولې زده‌کړه.

**په نیپال کې د سولې د زده‌کړې نوښتونه؛** نیپال جګړه‌ځپلي ذهنیتونه څه ډول بیا ورغول، پروسه، د ښوونیز نصاب اصلاح، د سولې د زده‌کړې عملي شوي نوښتونه، بیړنۍ اغېزې، عمومي اغېزې، پر زده‌کوونکو اغېزې، پر ښوونکو اغېزې، د ماشومانو د زونځایونو لپاره د سولې د زده‌کړې نوښتونه، د ښوونیزو موادو پراختیا، د سیمې د کچې روزونکو ته د PHRC زده‌کړه.

**په سریلانکا کې د سولې د زده‌کړې نوښتونه؛** د معارف وضعیت، د ټولنیز انسجام او سولې لپاره د ملي ښوونیزې پالیسۍ جوړول، د ښوونیز نصاب پراختیا او بیاکتنه، د ښوونکو زده‌کړه، د ښوونځي پر ښوونکو او مدیریانو زده‌کړه، د ښوونیز نصاب فعالیتونه، د دوهمې ملي ژبې زده‌کړه او تدریس.

**په کېنیا کې د سولې د زده‌کړې نوښتونه؛** د کېنیا د معارف وضعیت، مشخصې مداخلې، د پالیسۍ په کچه مداخلې، وړتیا لوړول، عدالت‌غوښتونکي نوښتونه، له کېنیا څخه زده شوي درسونه.

**په بوسنیا هرز ګوین کې د سولې د زده‌کړې نوښتونه**

**په ارمنستان کې د سولې د زده‌کړې نوښتونه:** د ارمنستان د سولې د زده‌کړې د پروګرام موخې.

**په افغانستان کې د سولې د زده‌کړې نوښتونه:** رسمي زده‌کړې، زده‌کړې او دیني مدرسې، د افغانستان د حکومت نوښتونه، په افغانستان کې د سولې د زده‌کړې په برخه کې له ملګرو ملتونو سازمان سره د اړوندو مؤسسو سازمانونو نوښتونه، د افغانستان دولت ته د سولې د زده‌کړو وړاندیزونه، د پوهاوي د کچې لوړول او د سولې د زده‌کړې په برخه کې د همکاریو ډېروالی، د ماشومانو د ونډې د کچې ډېروالی، د تجربو مستندول او شریکول او د سولې د زده‌کړې وړتیاوې رامنځته کول، د ښوونکو ملاتړ، د سولې د زده‌کړې د جوړوونکې برخې او پایلې په توګه «سوله په عمل کې» هڅول، د سولې د زده‌کړې په برخه کې د افغانستان د پوهنې وزارت ته ځانګړي وړاندیزونه.